ووايه: اې الله! په حلالو دې له حرامو څخه زما بسماينه وکړه، او ما په خپل فضل سره له بل چا څخه بې نيازه کړه

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه ته يو مکاتب راغی (هغه غلام چې بادار سره يې د يو څه مال په بدل کې د ازادولو ليکنه کړې وي) نو ويې ويل: زه د خپلې ليکنې د پوره کولو څخه عاجز شوی يم، نو مرسته راسره وکړه، هغه ورته وويل: آيا داسې يو څه کلمې در ونه ښايم چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم راښودلي دي، که چېرته دربانديې د صير د غره په اندازه قرض وي نو الله تعالى به يې درڅخه پرې کړي، هغه وويل: «ووايه: اې الله! په حلالو دې له حرامو څخه زما بسماينه وکړه، او ما په خپل فضل سره له بل چا څخه بې نيازه کړه».

[حسن] [الترمذي روايت کړی دی]

امير المؤمنين على بن ابي طالب رضي الله عنه ته يو غلام راغی چې د خپل بادار سره يې هوکړه کړې وه خپل ځان تر ويپرې او آزاد يې کړي تر څو خپلواک شي، حال دا چې پېسې يې نه درلودې، نو ويې ويل: زه د خپل حق له پرېکولو عاجز يم، نو په پرېکولو کې يې راسره مرسته وکړه، يا په تعليم او لارښوونې، نو امير المؤمنين ورته وفرمايل: آيا تاته داسې کلمې در ونه ښايم چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم راښودلي دي، که چېرته دربانديې د صير نومي غره په اندازه قرض وي، کوم چې د طيئ قبيلې سره تړاو لري؛ نو الله تعالى به يې درڅخه ادا کړي او خپلو مستحقانو ته به يې ورسوي، او د هغوی له ذلت څخه به دې وژغوري، هغه وويل ووايه: (اللهم اكفني) ای الله زما بسماينه وکړه، او ما لرې کړه او واړوه (بحلالك) ستا په حلالو سره چې مستغني شم پرې (عن) له : (حرامك) دې چې ستا په حرامو کې واقع شم، (وأغنني) او ما بې نيازه کړه (بفضلك) ستا په سخاوت او مهربان سره مې د بل هر چا له مرستې پرته غني کړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5884